مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند

۲۰۲۶/۰۴/۰۷

# د لنډيو اصلي منابع خلک دي

## ۳۲مه‌برخه

## لنډۍ، د ثبتولو ستونزه

## ۳۷۰مه‌برخه

### د سروکۍ یا نیمه‌کۍ بحث:

ما د سندرغاړو په غږ کي د «سروکۍ یا نیمه‌کۍ» هرډول یا د ولسي سندرو نورډولونه چي له لنډيو سره مل ویل کېږي ــ چي په مخه راغلي ــ خوندي کړي دي او هغه لنډۍ مي هم راخیستي دي چي له دې ولسي سندرو سره سندرغاړو زمزمه کړې دي. هماغسي چي استاد هېوادمل د «غرنی سندرې» په مقدمه کي ویلي دي، کېدای شي د اوسنیو سندرغاړو له خوا له لنډیو سره په ویل شوو سروکو کي هم لاسوهني شوې وي او یا یې بندونه وړاندې وروسته ویل شوي وي.

ما یې تر اوسه ګڼي بېلګي راخوندي کړې دي چي په پرله‌پسي ډول به یې خپروم او وروسته تر دې هم که نورې بیلګي په مخه راشي، له تاسو درنو لوستوکو سره به یې شریکوم؛ خو لومړی باید د سروکۍ (نیمه‌کۍ) په باب درنولوستونکو ته معلومات وړاندې کړم او وروسته یې ګڼي داسي بېلګي وړاندې کړم چي په هغو کي عملاً لیدل کېږي چي لنډۍ ځنګه د سروکۍ یا نیمکۍ بشپړونکۍ برخه ده.

سروکۍ د پښتو ولسي سندرو داسي یو ډول دی چي لنډۍ یې بشپړونکي برخه ده او بېلابېل ډولونه لري.

د سروکۍ (نیمه‌کۍ) په باب معلومات ما د استادانو په لکچرونو کي اورېدلی او په بېلابېلو کتابونو کي مي لوستلی دي چي دا لاندې درې کتابونه یې همدا اوس زما په واک کي دي:

۱ ــ د خلکو سندرې، د حبیب‌الله رفیع اثر،

۲ ــ غرنۍ سندرې، د محمدعارف غروال اثر،

۳ ــ د پښتو شعر هندسي جوړښت، د محمداسماعیل یون اثر.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځير و لولئ

استاد حبیب‌الله رفیع د خپل کتاب (د خلکوسندرې) کې د پښتني فولکلور د نورو ډولونو ترڅنګ، د سروکی په باب هم بحث لرې چې په یوه برخه کې یې داسې راغلي دي:

«سروکۍ چې ځینې پښتانه «نیمه‌کۍ» هم ورته وایي، د پښتو په اولسي نظم کې یوه په زړه‌پورې، خوندوره او خوږه‌برخه ده. څرنګه چې سروکۍ د پښتو شیریني او خوږې‌سندرې دي، نو ځکه باید ووایو چې د سروکۍ «کۍ» د تجلیل او تحبیب لپاره دی، نه د تصغیر او تحقیر لپاره.

د سروکۍ مکمل او بشپړونکی لنډۍ دي چې په اوسني اصطلاح کې سروکۍ ته «سروکۍ» یا «نیمه کۍ» او کومې لنډۍ چې په کې راځي، هغو ته عموماً «تیکۍ» یا «ټکۍ» ویل کېږي. همدا راز سروکۍ ته لومړی جز او لنډۍ ته دوهم جز هم ویل کېږي، له سرکۍ سره په عام ډول تولې لنډۍ ویل کېدای شي او راوړل یې کوم اختصاص یا قید نه‌لري، خو هغه لنډۍ چې د سروکۍ له موضوع سره زیات ارتباط ولري، د اولیت حق لري...

د سروکۍ د ویلو طرز داسې دی چې لومړی سروکۍ او له هغه وروسته ټیکۍ (لنډۍ) ورلویږي. سروکیو د پښتو د موسیقۍ او ټنګ‌ټکور نړۍ ډېره پراخه، ارته او رنګینه کړې ده...

د پښتو سروکۍ په عمومي‌توګه په دوو برخو ویشل شوي دي:

لومړی: هغه سروکۍ چې خاص په اتڼ کې ویل کېږي، چې د «اتڼ سر» یې هم بولي،

دوهم: هغه سروکۍ چې له اتڼ څخه پرته په نورو مجلسو او ښادیو کې ویل کېږي چې دې ته «عام سر» او یا خو تش سروکۍ او نیمکۍ وایي...»

(رفیع حبیب‌الله، د خلکوسندرې، د افغانستان اکادیمی د تاریخ او ادب ټولنه، ۱۳۴۹ ام کال، ۱۲۳ ـ ۱۲۴ مخونه)

دغه راز په «غرنۍ سندرې» نومي اثر باندې استاد زلمي هېواد مل یوه اوږده علمي مقدمه لیکلې چې هلته یې د سروکۍ په باب هراړخیز علمي او مستند بحث کړی دی.

(غروال څېړنمل محمد عارف، غرنۍ سندرې، د افغانستان د علومو اکادیمي، ۱۳۶۰ ام کال، ۵ ـ ۱۱۶ مخونه)

د کتاب (غرنۍ سندرې) مؤلف په دې کتاب کې د سروکیو په باب کوم تیوریک بحث نه دی کړی، بلکې د ولسي ادب د ځینو نورو ډولونو د بېلګو د ثبتولو ترڅنګ یې، د سروکو بېلګې هم ثبت کړې دي.

درېیم کتاب چې اوس زما په واک کې دی او د سروکۍ په باب بحث په کې راغلی دی، «د پښتو شعر هندسي جوړښت»، نومېږي چې لیکوال یې محمداسماعیل یون دی. په دې کتاب کې یون صاحب د پښتو شعر سکښت باندې علمي او مفصلې خبرې کړې دي. د دې کتاب له ۱۳۷ ام مخ نه تر ۱۴۳ ام مخ پورې د سروکۍ (نیمکۍ) په باب بحث راغلی دی او یون صاحب یې د جوړښت او سکښت په باب غږېدلی او مثالونه یې هم وړاندې کړي دي.
په یاد کتاب کې د سروکۍ یا نیمکۍ په باب د یون صاحب په بحث کې داسې راغلي دي:«

سروکۍ (نیمکۍ):

سروکۍ د پښتو ولسي سندرو یو ځانګړی ډول دی، چې بېلابېل فورمونه یا شکلونه لري. ځینې پښتانه سروکۍ (نیمکۍ) بولي او د پکتیاپه منګلو کې د (پام) په نوم یادېږي. سروکۍ د پښتو ولسي سندرو د نورو اصنافو په څېر د پښتون قام د زیاترو کړو وړو انځورنه کوي او د خلکو د ملي، اجتماعي او روحي ځانګړنو عکاسي په کې شوېده.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

سروکی معمولاً د لنډیو په واسطه بشپړیږي، داسې چې لومړی سروکی ویل کیږي، بیاتیکی (لنډۍ) ور اچول کیږي. له سروکو سره تولې لنډۍ ویل کیږي، خو هغه لنډۍ چې د سروکي له موضوع سره ارتباط ولري، خوندوري وي. لنډۍ وار په وار بدلیږي، خو سروکی د هرې لنډۍ په پای کې مکرر راځي. لکه:

خانه راځه دلبره
ډکي لارۍ د جنکو لندن ته ځینه
د جنکو قدر یې کم که
امان الله ته دې خدای لوئي ورکوینه
خانه راځه دلبره ډکي لارۍ د جنکو لندن ته ځینه

سروکی کله یو بیتیز وي، یاني دوه مسرې لري، چې لومړۍ مسره یې اوږده او دویمه یې لنډه وي او کله یې دویمه مسره اوږده او لومړۍ یې لنډه وي، کله درېمسریز، څلور مسریز او پینځه مسریز هم وي، چې دلته به د هر یوه بېلګه راوړو:
دوه مسریز سروکی چې لنډۍ هم ورسره مله ده:

الا یو غړ وشو

راغلي مه وای د جبو په میدانونه
د لمندار کمیس مېرمني
الا یو غړ وشو
اور له لمني باروې ستي دې کړمه
الا یو غړ وشو.

درېمسریزه سروکی:

پسې ورجګکړه سره لاسونه
لنډ کړه د تیکی مزې دې
خال به دې وران شي.

څلور مسریزه سروکی:

تورې سترګي خماري
درته کړم ناله زاري
د زړه زخم مي کاري
شوم رسوا ستاپه یاري

پینځه مسریز سروکی:

ي بي شېريني
زېړېګلي
راباندېواچوه
یوه لونګی
جوړه لاسونه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنېزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ښاغلی زلمی هېوادمل ليکي: (( سـروکی ښپلاښپل فورمونـه لـري چې ځيني يې ډېر زاړه دي او د اوستايي ګاتونو له (هوخشـتاتره) او (اهونار) سره په تول او وزن کې برابر خېږي)). (۴۴)
ددې ډول سروکوهندسـي رغښـت داسـي انځورېـدی شـي. دوه مسريز سروکي لړ تر لړه دغه لاندې بڼې درلودلاشي:

______________

____________________

______________________a
____________a
______________________a
______________________a

دويمه او درېيمه بېلګي يې دا دي:
شين کميس راوړی کمر بند مي دی تر ملا
و غازي امان الله

مين چې شومه په ګل ښبو
ستې يې کړمه په سرو لمبو (۴۵)

د درېمسريز سروکي شکلونه:
يو ډول يې هغه دي، چې د سر لـومړی مسره يـې تـر دويمـي اوږده وي او دويمه يې تر درېيمي. بل ډول يـې دادی، چـې د سـر لـومړی او درېيمه مسره يې د څپو د شمېر له مخې برابرې وي او هم قافيه وي، خو دويمه مسره يې قافيه نه لري او هم لنډه وي. شکل يې دادی:

________________________

_____________________

_________________

______________________a

____________

______________________a

دويمه بېلګه يې داده:

پوري د جانان کډې بارېږي
زم ورسره ځمه
کله مي مين زړګی صبرېږي(46)

څلور مسرييز سروکی:

هغه ډول چې ټولې مسرې يې قافيې ولري او د څپو شمېر يې سره مساوي وي. لکه:
______________________a
______________________a
______________________a
______________________a


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

بله بېلګه يې داده، چې څلور واړه مسرې يې تولې قافيه والـې نـه وي او هم يې د څپو شمېر سره برابر نه وي، لکه دا سروکی:

ګودر غاړه اجاره
مابې وروره مه کي
وروري ما سره جوړه
شرنګ دې د بنګړو (47)
د پورتني سروکي شکل داسې دی:

______________________________a
_________________________
______________________________a
______________

د پينځه مسريز سروکي يو شکلپه دېول دی:

____________________________
__________________
_________________________________
_

سربېره پر دې د سروکو نور ډېر ډولونه هم شته لکـه هغـه سـروکي چې د ښځې او نارينـه تـرمنځ د سـوال او ځـواب پـه توګـه ويل کېـږي.
لکه:
ښځه: جانانه راشه ديدن وکړه
خفه زړګی مې ښه کړه
سبابېلتون دی

نارينه: ګلې سباته به درځمه
تانه خفه کومه
ښکلی ژوندون دی
بله بېلګه:
ښځه: خان دلاور خانه، توره دې لونګی شمله دې لا مزه کوينه.
نارينه: ګلې بې بې ګلې، توري سترګي سره لاسونه لا مزه کوينه.

دغـه راز يـو شـمېر ډول ډول سـروکي هـم شـته، چـې پـه بېلابېلـو سيمو پورې اړه نيسي، په لنډ ډول هغه د سر محقق زلمې هېوادمل په وينا: ((د سروکو د فورمونو شمېر خورا زيات دی.))

(يون محمداسماعيل، د پښتو شعر هندسي جوړښت، خپـرنـدوی: يون کلتوري يون، شـپـږم چاپ: ۱۳۸۷ل کال، ۳۷ ــ ۴۳ مخونه)

نوربيا

د ليکوال نوري ليکني په لاندې لينک کې لوستلای شئ:

**http://afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?95**